## د ایروپارسل د پوستي خدمتونو شرایط او مقررات

**اړینه یادونه**

**کله چې د ایروپارسل د خدمتونو غوښتنه کوی، تاسو د "استوونکي" په توګه او د لېږنې د تر لاسه کوونکي ("تر لاسه کوونکي") او په لېږدونه کې د بل هر شکېل شخص په استازولی، هوکړه کوئ چې لاندې شرایط او مقرارت باید پلي شي.**

**"لېږنه" یا "محموله" ټولو هغو اسنادو او پوستي لېږدونو (پارسلونو) ته ویل کېږي چې د یوې لېږد پاڼې له مخې او د ایروپارسل په واسطه د ټاکل کېدونکو طریقو په واسطه، د هوا، ځمکې یا د لېږد د بلې لارې په ګډون لېږدول کېږي. "لېږد پاڼه" د لېږنې هر مشخص کوونکي یا هغه سند ته وایي چې ایروپارسل یې یا د لېږدونې اتومات سیستم یې وړاندې کوي، لکه لېبل، بارکوډ، لېږدپاڼه یا د لېږنې یادښت او همدارنګه د هغوی برېښنایي بڼې. هره لېږنه د محدودو مسوولیتونو له مخې لېږدول کېږي چې دلته یې یادونه شوې. که استوونکی د زیات خوندیتوب غوښتنه کوي، بیا نو بیمه د اضافي لګښت پر بنسټ چمتو کېږي. (د زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ټکي ولولئ). "ایروپارسل" د ایروپارسل د پوستي خدماتو شبکې هر غړي ته ویل کېږي.**

### ۱. ګمرکي تصفیه (د نړیوالو لېږنو لپاره)

ایروپارسل بنایي د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه، له لاندې فعالیتونو څخه هر یو یې د استوونکي یا تر لاسه کوونکي په استازولی اجرا کړي: (۱) د هر ډول اسنادو بشپړول، د محصول یا خدمتونو کوډونه تعدیل، او د نافذو قوانینو او مقرارتو پر بنسټ د محصولونو، مالیاتو یا جریمې ورکړې ("ګمرکي محصولونه")، (۲) د ګمرکي محصولونو او د صادراتي کنټرول په موخه د استوونکي د لېږد را لېږد د استازي په توګه او یوازې د ګمرکي تصفیې او ثبتولو لپاره د ګمرکي کمېشن کار د ټاکلو په موخه د تر لاسه کوونکي د استازي په توګه عمل وکړي، او (۳) د ترلاسه کوونکي ګمرکي بروکر یا بلې پتې ته، د هغه کس د غوښتنې له مخې، چې ایروپارسل یې د خپل معقول نظر پر بنسټ باصلاحیته ګڼي، د لېږنې استول.

### ۲. د نه منلو وړ استونې

یوه لېږنه په لاندې حالتونو کې د نه منلو وړ ده:

- چې ګمرکي سندونه د نافذه قوانینو او مقرارتو له مخې نه وي تصفیه شوي.
- چې بدل (جعلي) توکي، حیوانات، سره او سپین زر، پیسې، قیمتي ډبرې؛ وسلې، چاودېدونکي توکي او مهمات؛ د انسان جسد؛ غیر قانوني توکي، لکه د پیل غاښ او نېشه یي توکي،
- چې د IATA (د هوایي لېږد رالېږد نړیواله ټولنې)، ICAO (د ملکي هوایي چلند نړیوالې ادارې)، د خطرناکو توکو په اړوند د افغانستان د ځمکني لېږد را لېږد د مقررې یا د بل اړوند سازمان په واسطه د زیان رسوونکو موادو، خطرناکو توکو، منع شوو یا بندیز شوو توکو په توګه ډلبندي شوي وي ("خطرناک توکي").
- چې پته یې ناسمه وي یا په روښانه توګه نه وي څرګند شوي یا یې بسته بندي ناسمه یا نامناسبه وي، چې د لېږد له عادي پاملرنې سره د خوندي لېږد لپاره د ډاډ وړ نه وي.
- یا کوم بل داسې شی وي چې ایروپارسل فکر کوي په خوندي یا قانوني توګه یې نه شي لېږدولی.

### ۳. رسونې او د نه د رسولو وړ توکي

لېږنې د پوستي خونو صندقونو یا پوستي کودونه ته نه رسول کېږي. لېږنې د تر لاسه کوونکې پتې ته رسول کېږي، چې استوونکي ورکړې ده خو دا اړینه نه ده چې هرو مرو دې هغه شخص ته وسپارل شي، چې نوم یې ورکړل شوی دی. هغه لېږنې چې د یوې مرکزي سیمې لرونکو پتو ته لېږدول کېږي، همغې مرکزي سیمې ته به ورسول شي.
ایروپارسل ښایي ترلاسه کوونکي ته د راتلونکې سپارنې یا د یوې پاتې شوې سپارنې په اړه خبر ورکړي. ښایي تر لاسه کوونکي ته د سپارنې د بدیلو انتخابونو وړاندیز وشي لکه پر بله ورځ د سپارنې، کوم لاسلیک ته د اړتیا نه شتون، د سپارنې د ځای بدلون یا د ایروپارسل د خدمتونو په مرکز کې دلېږنو یو ځای کېدل. استوونکی ښایي د سپارنې ځینې انتخابونه د غوښتنې له مخې لرې کړي.

که لېږنه د ۲یمې برخې تشریحاتو له مخې د نه منلو وړ وګڼل شي، یا که د ګمرګي محصولونو له مخې کم ارزښته وګڼل شي، یا تر لاسه کوونکی په سمه توګه نه وي معلوم شوی یا یې ځای نه وي روښانه، یا چې تر لاسه کوونکی سپارنه ونه مني یا د ګمرګي محصولاتو یا د لېږنې د نورو لګښتونو له ورکړې څخه ډډه وکړي، ایروپارسل باید مناسبې هڅې وکړي تر څو لېږنه بېرته لېږونکي ته د هغه په لګښت بېرته ور وګرځوي، که دا چاره بریالی نه شي، لېږنه به پرېښودل شي، له منځه یوړل شي یا وپلورل شي، پرته له دې چې ایروپارسل د لېږونکي یا بل کوم شخص لپاره کوم مسوولیت وګالي، ګمرکي محصولونه، د لېږنې لګښتونه او اړونده اداري لګښتونه د پلور له عوایدو څخه کمېږي او پاتې یې لېږونکي ته ورګرځول کېږي.
ایروپارسل باید دا حق ولري چې هره هغه لېږنه له منځه یوسي چې د کوم قانون له مخې ایروپارسل اجازه نه لري چې بېرته یې لېږونکي ته ورسوي همدارنګه د خطرناکو توکو هره لېږنه هم له منځه وړلی شي.

**٤. پلټنه**
ایروپارسل حق لري چې له استوونکي ته له خبرتیا پرته د خوندیتوب، امنیت، ګمرګي محصولونو او یا نورو قانوني لاملونو لپاره یوه محموله پرانیزي او ویې پلټي.

**٥. د لېږنې لګښتونه او فیسونه**
د ایروپارسل د لېږنې لګښتونه د حقیقي یا حجمي وزن له مخې محاسبه کېږي او ایروپارسل ښایي د محاسبې د تایید لپاه هره لېږنه بیا اندازه یا وزن کړي.
کله چې ایروپارسل د ترلاسه کوونکي استازولي کوي، لېږونکی یا تر لاسه کوونکی باید ایروپارسل ته د لېږنې او نور لګښتونه ورکړي، همدارنګه هغه ګمرکي محصولونه چې ایروپارسل یې د لېږونکي یا تر لاسه کوونکي په استازولۍ د خدمتونو لپاره د پور په بڼه تصفیه شوي دي او ایروپارسل د لېږونکي یا تر لاسه کوونکي په استازولۍ ګاللي دي، باید لېږونکی یا تر لاسه کوونکی یې پرې کړي.
د ګمرګی محصولونو ورکړه ښایي له لېږنې مخکې وغوښتل شي.
که ایروپارسل له ګمرکي مسوولینو سره له خپل اعتبار څخه ګټه اخلي یا د تر لاسه کوونکي په استازولۍ چې د ایروپارسل سره حساب نه لري، ګمرکي چارې پر مخ وړي، ایروپارسل حق لري چې د فیس غوښتنه یې وکړي.

**٦. د ایروپارسل مسوولیت**

٦,١ د داخلي لېږنو لپاره د هوايي لېږد را لېږد په ګډون (د فرعي ځمکني لېږد رالېږد يا د لارې د تمځايونو په ګډون) د ايروپارسل مسووليت پر هره لېږنه تر ۱۰۰ افغانيو پورې محدود او د نړيوالې لېږنې لپاره پر کيلو ګرام ۲۰ امريکايي ډالره دي. که لېږونکی دا حدود کافي نه ګڼي، بايد په ځانګړې توګه د ارزښت ټاکنه وکړي او د بيمې غوښتنه وکړي لکه څرنګه چې په ۸مه برخه کې تشرېح شوې يا په خپله د بيمې ترتيبات ونيسي.
د ايروپارسل مسووليت يوازې تر مستقيمې ورکې يا د لېږنې د زيانمن کېدلو پورې او يوازې د همدې (٦مې) برخې د پر کېلو ګرام تر بريدونو پورې محدودېږي. ټول نور زيانونه استثنا کېږي، (د پانګې، عايد، ګټې، راتلونکي کاروبار د لاسه ورکولو په ګډون، خو تر دې پورې هم نه محدودېږي)، که دا ډول زيانونه او تاوانونه ځانګړي يا غير مستقيم وي، او ان که په دې ډول زيان يا تاوان ايروپارسل خبر شوی هم وي.
٦,٢ ايروپارسل تر وسه هڅه کوي چې لېږنه د ايروپارسل د لېږنو د منظم مهالوېش له مخې وسپاري، خو ياد مهالوېشونه الزامي نه دي او د تړون برخه نه جوړوي. ايروپارسل د ځنډ له امله د پېښېدونکي زيان يا تاوان مسوول نه دی.

**۷. ادعاګانې**

ټولې ادعاګانې بايد په ليکلې بڼه ايروپارسل ته په (۳۰) ورځو کې، د ايروپارسل په واسطه د لېږنې د منلو له ورځې وروسته وسپارل شي، په دې چاره کې د پاتې راتللو په اړوند ايروپارسل هېڅ ډول مسووليت نه لري. د هرې لېږنې لپاره يوه ادعا کېدلی شي، چې حل او تصفيه به يې بشپړه او وروستۍ وي، او له ادعا سره اړوندو ټولو زيانونو او تاوانونو لپاره وروستۍ سپيناوی ګڼل کېږي.

**۸. د لېږنې بيمه**

ايروپارسل ښايي وکولی شي چې د لېږنې د ورکېدنې يا زيان په تړاو د ارزښت د پوښښ لپاره بيمه برابره کړي، په دې شرط چې لېږونکی يې په ليکنې بڼه ايروپارسل ته لارښوونه وکړي، يا د لېږد پاڼې پر مخ د بيمې د برخې د ډکولو په واسطه يا د ايروپارسل د اتومات سېستم او د اړينو پيسو د ورکړې په واسطه. د لېږد بيمه غير مستقيمه ورکېدنه يا زيان، يا د ځنډ له امله ورکېدنه يا زيان نه رانغاړي.

**۹. د ايروپارسل له قابو بهر شرايط**

ايروپارسل د هغې ورکېدنې يا زيان مسوول نه دی چې د ايروپارسل له قابو بهر شرايطو له امله رامنځته کېږي. په دې شرايطو کې لاندې موارد راځي خو په دې پورې محدودېږي نه، الکترونيکي يا فوټوګرافيک انځورونو، ډېټا يا ريکارډونو ته برېښنايي يا مقناطيسي زيان رسېدنه يا يې پاکېدل؛ د لېږنې له ماهيت سره تړلی کوم کمی يا ځانګړنه، ان که ايروپارسل ته معلوم هم وي؛ د هغه کس کم کاري چې ايروپارسل نه دی ګومارلی يا يې تړون نه دی ورسره کړی – لکه، لېږونکی، تر لاسه کوونکی، درېيم لوری، د ګمرک يا نور دولتي چارواکي؛ "بېړني حالت" – لکه زلزلې، موسمي تيز باد، توپان، سېلاب، تته هوا، جګړه، د الوتکې پرځېدل، سوداګريز بنديز، بغاوت، مدني پاڅون، ياغي فعاليتونه او صنعتي بدلونونه.

**۱۰. د لېږونکي تضمينونه او ژمنې**

لېږونکی د لاندې ژمنو او تضمينونو په پوره کولو کې د پاتې راتلو له امله د هرې ورکېدنې او زيان د پېښېدلو په تړاو بايد ايروپارسل له هر ډول زيان څخه وساتي او بايد په خپله يې وګالي. چې دا ژمنې او ضمانتونه په لاندې توګه دي:

- د استوونکي يا د هغه د استازو په واسطه ټول چمتو شوي معلومات پوره او سم دي؛

COPY

- لېږنه پورته د ۲مې برخې پر بنسټ د لېږد لپاره د منلو وړ ده؛
- لېږنه د باوري اشخاصو په واسطه په خوندي بستو کې چمتو شوې او په چمتو کولو، ذخیره او ایروپارسل ته یې په لېږدولو کې د غیر مسوولو اشخاصو له لاس وهنې څخه خوندي وه؛
- لېږونکی د پلي کېدلو وړ ټول ګمرکي، د واردتو، صادراتو، د اطلاعاتو د خوندیتوب قوانین، فرمانونه، بندیزونه او نور قوانین او مقرارات منلي؛ او
- لېږدوونکي د هغو شخصي اطلاعاتو په اړوند ټول اړین رضایت ترلاسه کړی چې ایروپارسل ته یې برابر کړي، د تر لاسه کوونکي د معلوماتو په ګډون چې ښایي د لېږد را لېږد، ګمرکي تصفیې او سپارنې لپاره اړین وي، لکه بربښنالیک پته او د موبایل شمېره.
- لېږونکی په روښانه توګه څرګندوي چې د افغانستان د قوانینو، مقرراتو او قواعدو له مخې هېڅ غیر قانوني توکي یا اسناد نه لېږي.

**۱۱. لاره**

لېږونکی له ټولو لارو او د لارې له بدلون سره موافقه کوي، د دې په ګډون چې ښایي لېږنه د منځګړو تمځایونو له لارې ولېږدول شي.

**۱۲. نافذ قانون**

د دغو شرایطو او مقرارتو له مخې یا یې په تړاو هره شخړه او اختلاف، د ایروپارسل د ګټې لپاره، باید د لېږنې او لېږونکي د اصلي هېواد د محکمو غیر اختصاصي قانوني حوزې ته په نه راګرځېدونکې توګه وړاندې کیږي او د همدغه هېواد د قانون له مخې پر مخ وړل کېږي، مګر په هغه صورت کې چې له نافذ قانون سره په ټکر وي.

**۱۳. د جلا کېدلو وړتیا**

د هرې مادې نه پلي کېدل یا باطلېدل یې د دغو شرایطو یا مقراراتو پاتې کومه برخه نه اغېزمنوي.

CONFIDENTIAL